سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹ / ۰۶ / ۲۷

# د هیلو کاروان

**د ولسمشر غني د روانو هڅو په تړاو:**

د غوټي د غوړېدو په انتظار وم
لا سپرلی راغلی نه وو خزان راغی
ما څو ځان راغونډاوه، جګړ له وېري
له جګړه څخه مخکي توپان راغی
چي د نوي ژوند نادودي مي میلمه شوی
د زاړه ژوند په نادودو ارمان راغی
راځی لاره د هدف په لور کړو سیخه
په نېولي لار خو ډېر ډېر تاوان راغی
څه امید په توکېدو، زرغونېدو دی
یو الهام راته په پټه په ځان راغی
مسافرو بار مو وتړی چي ځو به
ومنزل ته مو د هیلو کاروان راغی
شعروزمه خیالونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ